پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۴/۰۶/۱۰

# څوبیسواده نسلونه او زموږ مسؤولیت

## (له ښاغلي احسان آرينزي سره دزړه خواله)

بیا هم د سواد، مطالعې او د نوي نسل د روزنې مسأله:
د۲۰۱۴ کال د جون په نهم ماښام مې په «لراوبر» ویبپاڼه کې د ګران دوست ښاغلي آرينزي یوه مقاله ترسترګوشوه چې له ځان نه، له پلار نه وله نیکه نه، له غورنیکه اوتیرو واکدارانونه یې ګیلې کړي دي، ورته په قهردی، آن تردې چې ښیراوې یې کړي دي اوهغوی ته یې د جهنم غوښتنه کړې ده.(۱)
ښاغلی آرينزی!
زه هم ترډیرې اندازې در سره همغږی یم او دې ته لکه تا غوندې خپه یم چې یو نه، بلکې څونسلونه راسره همدا اوس ژوندي بیسواده دي:
ـ دجګ او زاړه عمرخاوند نسل،
ـ دمنځوي عمرنسل،
ـ ځوان نسل،
ـ او نوی دنیا ته راتلونکی نسل،
هغه بدبخته نسل چې له ټولنې، پلار، نیکه اوتیرو واکدارانونه داسې ټولنه شرایط، قوانین اوطرزتفکر ورته په میراث پاتې دی چې هغه نوي زیږیدونکي ماشوم ته پرته له بیسوادی، ناپوهی اوبدبختی بل څه په لاس نه شي ورکولای.دا خو د ژړا او غم وړده، دا پوښتنه باید مطرح شي چې له دې خلکو او ټولنې سره دا جفا چا وکړه، دا هرڅه له کوم آدرسه ورسره شوي او له کوم آدرسه همدا اوس کیدونکي دي.
آرينزی صاحب!
ستا له لیکنې نه یوه خوشالتیا هم راپه برخه شوه، هغه دا چې دا دی اوس اوس دا کار روان دی پیل شوی او پلویان پیدا کوي چې د ټولنې د اکثریت د بیسوادی ،ښوونځي اوپوهنځي ته د نه تګ ناپوهی او له تمدن او ژوند نه د لرې والي مسایل مطرح کیږي اوپه دلایلو اوعواملو باندې یې فکر کیږي.زه ستاسو دا مقاله د خپلوهغومقالوپه تایید کې یومخ پر وړاندې حرکت بولم چې ما د نوي نسل د روزنې، د مطالعې د کلتور د رواجیدو او زدکړو ته د تشویق له پاره لیکلې دي او اوس هم لګیا یم د مقالو دې سلسلې ته دوام ورکوم.
ستا به په یاد وي که نه، خو زما داسې په یاد دي لکه دا اوس، چې د۲۰۰۷ کال په اوړي کې له وطن څخه، له اولسو کلونو لرې والي وروسته، کابل ته درغلم.هغه مهال تا په آریانا تلویزیون کې د ریاست چارې چلولې.ما هیڅ علاقه نه درلوده چې په دریمه کارته کې د آریانا تلویزیون ساتونکي زما جیبونه اوځان داسې ولټوي لکه غلا مې چې کړې وي، خو ما دا ټول د دې له پاره پرځان ومنل چې وروسته له کلونومې ستا لیدل خپل فرض ګاڼه، نه د دې له پاره چې ته رئیس یې، بلکې د دې له پاره چې زما یو دوست یې، لیکوال یې او د قلم توره دې له توري تیارې نه د خلکو او وطن د خلاصون له پاره په هرډول حالاتو کې په لاس کې نیولی دی.
هماغه مهال ما تاسو څخه د ترسره کړو فرهنګي کارونوپوښتنه وکړه، تا راته یو یو راوښودل، خپل هغه پنډکتاب ته دې اشاره وکړه چې د انسایکلوپیدیا په بڼه دې د ټولې نړۍ په باب مالومات په کې راټول کړی و.خوما دې دا اوسنی یأس او نا امیدي نښې په سترګو کې هغه وخت لا لیدلې او احساسولې.
په هرصورت،
زه فکرکوم چې د بدخشان د باریک آب او د افغانستان په نوروسیموکې د طبعي آفاتو په پیښیدو سره سترې انساني غمیزې رامنځ ته شوې، چې واقعاً د ژړلو وړدي او د هر با درده انسان له سترګواوښکې بهوي، خوزه یې داسې ګڼم چې له دې ټولوغمیزونه ستره غمیزه همدا دیوه نه، بلکې د څونسلولونو بیسواده پاتې کیدل دي، ټینګارکوم او وایم چې دیوه نه، دڅونسلونو بیسواده ساتل دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

زما اوستا نسل ته، زما اوستا پلرونو او نیکونو ته له هماغه یوه آدرسه ویل شوی چې ښوونځي ته تګ ګناه ده، سواد ښه نه دی، قیرسرک بریښنا ښه نه ده، تلویزیون خو کاملاً کفرګڼل کیږي.اوس هم زموږ کلیوالي میرمنې که د تصادف له مخې پرداسي ځای ورپيښي شي چې په کوټه کې د تلویزیون خپروني رواني وي، د تلویزیون پر پرده د نارینه په ښکاریدو سره مخ پټوي.
«آبی تولـه بی»، د افغانستان د خلکو د ژوندهره پاڼه چې اړوي له دردونو ډکه ده، په هره پاڼه کې په سلګونو لا زرګونو تپل شوي دردونه په تورو رنګونو رسامي شوي دي.
په افغانستان کې د کمپیوتراو فیسبوک په راښکاره کیدو سره رباني د ملایانو یوې غونډې ته په ښکاره ډول په لوړ آواز ویلي:
«او علمای کرام!فکر تان باشه که ازطرف فیسبوکي ها چیه میشین...»
خبره مالومه ده، له هماغه پیل نه تر اوسه دا کار دوی د خپلې بقا له پاره کړی اوکوي یې.دوی ټول خلک ناپوه او ړانده ساتي چې د دوی حق او نا حق فتواوې په پټوسترګو ومني.زما ښه په یاد دي چې د تیارې همدې استازو، زما په پلرني او مورني کلي کې، د میدان ښار د نرخ ولسوالی د دادل په دره کې زموږملي نڅا(اتڼ) ناروا اوله ګناه ډک عمل وباله.
ښاغلی آرینزی!
زما او ستا په کلي، کور او وطن کې اوس هم، د یوویشتمې پیړی په څوارلسم کال کې خط په ملا لوستل کیږي.یونیم ځوان که لږ وزرې پیدا کړي، منډه یې ترایران او دوبی پورې ده چې د کورنی له پاره روزي او یا د خپل واده له پاره ولور پیدا کړي.کله چې بیرته راشي د پردي کلتور په هغو توکو لړلی وي چې په خپلوخلکو اوټولنه کې یې د زهرو حیثیت لري او یا داسي په مخدراتو روږدی وي چې بیا د هیڅ کارنه وي.
په تیرو څه کم و زیات څلوېښتو کلونو کې داسي حالات پردي خلکو او ټولنې باندې راوړل شول چې روح، روان او د ژوند ټول اړخونه یې ورته ګډ وډ کړل.زه کار نه وربانديي لرم، چې سورانقلاب و که سپینه کودتا، عادي بدلون و که شین جِهاد و اوکه څه نور، خو زما خلک او ټولنه یې دغسي کړه چې اوس ټول ورته لاس تر زني یو او رغولی یې نه شو.
د دې ټولو هلوځلو په پایله کې ویل کیږي چې موږ روسان په ګونډوکړل، موږ جهاد وکړ،موږ امریکا په ګونډو کړه، موږ دا وکړل موږهغه وکړل.هرڅه موچې کړي، کړي به مو وي، پردې موفکرکړی چې ګټه یې چا ته رسیدلې ده؟
د افغانستان د جګړې له برکته پاکستان د اتمي سلاح خاوند شو، خوزه اوته بیسواده، ناپوه اونان ګدایه یو. د همدې مودې په اوږدو کې اولا اوس هم په ملیونونو افغانان پاکستان او ایران سره ګرو دي مزدوري ورته کوي، خوهغوی یې د«افغان آشغال» په نامه یادوي.
په دې باید پوه شوچې نه روسان په ګونډو دي اونه امریکایان او نه هم نور. هغوی موږافغانان خپلوموخوته د رسیدو له پاره وکارولو اوبیایې لکه د لاسو یا تشناب کاغذ ایسته وغورځولو.
په دې باید پوه شو چې اصلاً موږافغانان د خپلې نا پوهی او بیسوادی له لاسه په ګونډویو، داسي پرمخې لویدلي یوچې اوس بیرته جګیدلی نه شو او دا ښکاره ده چې له هماغه یوه آدرس موږ داسي نا پوه اوبې سواده ، بی تعلیمه ساتل شوي یو او اوس هم هماغه پروسه روانه ده اوخوک غږ هم نه شي کولای.د آدرس نوم هم نه شي اخیستلای. د همدغه غږ نه جګولومسأله مې یو وار ګران احمد تکل سره په یوه ایمل کې داسي شریکه کړه:
«مخ کې مې ویردی
غواړم وژاړم
ژړلی نه شم،
ډیر هم ترخه دي
چې یې وایم
خو ویلای نه شم»
له بده مرغه چې زموږ د ټولنې د وګړو روح او روان له جګړې سره عادت شوی دی.له بیسوادو خوهسې هم ګیله نه کیږي، خوهغه وګړي چې سواد لري، لیک لوست کولای شي، د علمي اوهنري مطالبو د لوستلوپرځای نظامي، جنګي اوغولونکي سیاسي مطالب ډیرښه او په مینه لولي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

همدا نن (۲۰۱۴/۰۶/۰۹) په تاند ویبپاڼه کې، په پاکستان کې پرهوایي ډګرباندې د حملې خبرخپورشو.همدا اوس چې په اروپا کې د پاسني نیټې د سهار لس نیمې بجې دي، په تاند کې د حملې د خبرله خپریدونه لس نیم ساعته تیر دي، دا مطلب ۵۶۱ ځلې لایک شوی دی (۲) اوپه (۲۰۱۴،۰۴،۲۰) نیټې کله چې د غفورلیوال غونډې شاعر«باد» نومې شعر د همدې تاند پرمخ رانښکاره شو، شپږ ورځې آنلاین و، یوازې یو وار لایک شوی دی.(۳) دا خوا شینونکې نه ده چې د ګلانو پرځای د باروتو بوی خوښوو؟

دلته په ډنمارک کې په کوم کلي کې چې زه اوسیږم، پخوا د دیرشو کورنیو په شاوخوا کې افغانان اوسیدل.په دې افغانانوکې تقریباً نوې سلنه نر اوښځې بیسواده دي.هغه چې یوڅه سواد هم لري نه مطالعه کوي او نه یې په کورکې کتاب پیدا کولای شي.ماشومان یې د خپلې مورنۍ ژبې په لیک لوست نه پوهیږي که یې څوک ورياده هم کاندي وايي چې څه یې کوي ؟مورنۍ ژبه یې څه په درد خوري.یوه ورځ زما میرمنې یوې افغانې میرمنې ته ویلي ووچې حد اقل په کورکې خوپه خپله ژبه خبرې سره کوئ!

هغې محترمې ورته په ځواب کې ویلي وو:

څه کووخپله ژبه، څه په درد موخوري، پریږده چې د دې ځای ژبه موښه زده شي او...

دا ټیپ خلک په ربښتیا فکر کوي اوځان یې تلقین کړی دی چې د جنت هغو لوړځایونو او منارو ته رسیدلي دي، نور نو وطن ،دوطن خلک، مورنۍ ژبه اوخپل کلتور څه کوي.

پرته له شکه چې په داسې حالاتو کې هرڅوک خپل مسؤولیت لري، دولت خويې په کيسه کې هم نه دی. زه فکرکوم چې په دې ګډ وډ حالت کې یوازې فرهنګیان د مسؤولیت ژوراحساس کوي او د دې بیسواده نسل پردې بد حالت زوریږي، مګر ددې زوریدلو او د مسؤولیت د احساس ترڅنګه دا پوښتنه هم باید مطرح شي چې پردې نسل دا بیسوادي چا راوسته، چا د بیسوادی ا وناپوهئ په دې دایره کې وساتل.

آرینزی صاحب! څنګه چې تا اشاره ورته کړې ده، له دین اومذهب نه هم زموږ برداشت ناسم دی اوهرڅه موپه غلطه او ناپوهی کې له دین اومذهب نه قربان کړي،آ ن تردې چې ځینو ښاغلو؟ تنظیمي مشرانوخود«اسلام سرحد نه لري» ترشعارلاندې وطن هم په کې «دَو» ته ایښی و.او د آخرت اوجنت په نامه موخپل او د نوي نسل ژوند داسې تباه کړی دی چې ټول عمر به بیل او پری په غاړه ګرځوو.

اوباید له ما نه ته ښه په دې پوه شې چې د نوي نسل د بیسوادی او د غلامی دایرې کې ساتل د چا مسؤولیت دی اوڅه باید ورسره وشي؟؟؟

آرینزی صاحب!

داچې تاسو د خپلې مقالې په یوه برخه کې لیکلي:

«زه کله نا کله د خپلو، خپلوانو او عزیزانو په کمکیو مجالسو کې وایم چې لاسونه پورته کړئ او ووایئ چې خدای دې زموږ ډېر پلرونه، نیکونه او غورنیکونه نه بښي؛ ځکه چې موږ ته یې ډېر بد میراث پرېښی دی. د قبیلوي ژوند مضبوط حصار، د اسلام ډېر وروسته پاته او کلیوالی تفسیر، خپلمنځي شخړې او دښمنی، تربورګلوی، له سواد، پوهې، تعلیم، کتاب او قلم سره پټ او علني مخالفت، له مدني ژوند، بدلون پرمختګ او نوي فکر سره دښمنی او داسې نور»(۱)

دا زه درسره منم چې له تیرونه مورته د راپاتې میراث ډیره سلنه منفي ده چې اوس د تمدن له کاروانه په کیلومترونو نه، بلکې په کلونو او لاپیریو لرې یو، خو پوښتنه داده چې دا حالت زما اوستا په پلرونو او نیکونو او ما وتا باندې چا اوڅنګه راووست. پلرونه اونیکونه خونا پوه او بیسواده وو، زه اوته خوسواد هم لرو، دننه اوبهرکې مو هم سترګې اوښتې را اوښتې دي اوپه ډیرو سیاسي مسایلوهم پوهیږو، پرما اوتا باندې ولې او چا اوڅنګه دا حالت تحمیل کړ چې نن مونږ د نسل د کتاب اولپ ټاپ پرځای پری بیل اوګُلنګ پر اوږه ګرځوي؟؟؟

دا په ایران کې دیوه مزدور افغان د زړه غږدی:

ورک دې شي ایران، په ایران کې مي زړه تنګ دی
هرشرکت ته لاړ شم په نصیب کې مي ګُلنګ دی
پوه په ګناه نه یم، دمهندس راسره جنګ دی
میاشت مي پوره نه وي،بیا روان یم بستروسره ...»(۴)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زما اوستا هرچیرې تلونکی هیواد وال خو وایي چې:«پوه په ګناه نه یم...» د ده ګناه مالومه ده، ګناه یې د سواد، د زدکړې او تخصص نه درلودل دي، یوازې بیل ،کُلنګ اوپړی باید استعمال کړي، دا ځکه چې دلته په خپل کلي کوراو وطن کې ورته ویل شوي دي چې:
ښوونځی ته تګ ګناه ده،
د سواد زدکړه ګناه ده،
دا دنیا د کفارو دنیا ده او...
راغلم ستا خاطرو ته،
دا خاطرې کیدای شي د ځینو زړه ته هم ونه لوېږي اوهسې یوه فانتازې یې وګڼي، خوزه یې نه یوازې دا چې درسره منم، بلکې یو وار نه ځو څوځلې ما هم په خپلوسترګو لیدلي دي.داسې ځایونه هم شته چې که سرور ښکاره کړې، له دې نه یې هم بد تره مخې ته درځي او دا حالت داسې زورونکی دی چې،غوښه لا څه چې د بادرده او با درکه انسانانو هډوکي هم سوځوي. تا په ابوظبی کې ځوانان بې سواده بې تعلیمه لیدلي دي، هلته خوهغوی ته د زدکړو هیڅ ډول امکانات نه شته، هغوی خوپه همدې بیسواده حالت راغلي دي مزدورۍ ته کورنۍ ته رزق ګټي اوکه ډیره میړانه وکړي نو د وَلور پیسې به هم وګټي چې لکه څارویوغوندې د چا لور او خور ځانته واده کړي.
راشه دلته اروپا ته. دزدکړوټول امکانات په وړیا ډول شته دي، خو افغان لالایې نه غواړي. د پیسو د ګټولو له پاره خپل اولاد «پیزاري» ته لیږي، ښوونځي ته نه. زه یې نوم نه اخلم داسې کورنۍ مې ولیدلې چې وایي ځم له افغانستان نه خپل زلمي زوی ته داسې ښځه کوم چې لاسونه یې دخوشایو بوی وکړي چې په هیڅ هم پوه نه شي او ...
د هغې محترمې کورنۍ اصلي مقصد دا دی چې هغه را ودیدونکې جلۍ بیسواده وي په هیڅ خبره نه وي چې دلته د ژوند ترپایه د دوی او د دوی د زوی تر حکم لاندې ژوند وکړي. همدا اوس په اروپا میشتو افغانانو کې داسې غمجنه ډرامه دیوه ډیر ترخه عیني واقعیت په ډول روانه ده.او د دې نا سزا کارونو تر څنګه دا نا سم او ناجایز غیرانساني دود نور هم په عامیدو دی چې دغسې کورنۍ چې له خوشیو ډک نوکان نجونې دلته د ناوې په ډول راولي، هغوی د نورو افغانانوپه منځ کې په ویاړ سره د خپلې نږور اوزوی د درنولوپه موخه وایي:
«دیرش زره ډالره مې پرې ورکړل او...»
او په ځینو نا پوه کورنیوکې چې بیا دلته لور ورکوي د دې مبلغ د ترلاسه کولو هیله یې په زړه کې غوټه کړي وي او که چیرې د ځوانانو د ژوند کوم تړون وشي او د هلک کورنۍ په پټناسه کې لوی مبلغ کینږدي، نویوعالم ستونزې د دواړوکورنیو په منځ کې په پټه اوښکاره رامنځ ته کیږي چې خبره یې د «دیموکراسي بي بي» په دایره کې تر بیلیدو اوطلاق پورې هم رسیږي.
آرینزی صاحب!
ستاسو د مقالې په پای کې د مسؤولیت خبره مطرح شوې ده.دا موضوع ډیره په ځای اوښه خبره ده. موږ هریو باید په خپل ځای او وخت سره د خپل مسؤولیت په درکولوسره دې سترې غمیزې ته پام وکړو او د ټوپک د لرلو او ساتلو د کلتور پر ځای د قلم کاغذ، کتاب ،سواد، مطالعې، ښوونځي، پوهنځي علم زدکړې اوتمدن په عامولو کې خپله ونډه ترسره کړو.
ما دلته په اروپا کې د «پردی چاپیریال اود کوچنیانو او ځوانانو د زدکړې مسأله» تر سرلیک لاندې د مقالوسلسله په ۱۹۹۴ کال کې پیل کړه چې لومړنۍ مقاله یې له ماسکوڅخه په خپریدونکي «نوید» اخبارکې چاپ شوه.داسلسله تراوسه هم دهمدې نوي نسل د سواد زدکړې اوم طالعې د تشویق له پاره ما جاري ساتلې ده، خوپه ۲۰۱۰ کال کې کله چې د سویدن په مالمو ښارکې د یوسمینار له پاره ما د «اور اوګلان» تر سرلیک لاندې مقاله لیکلې وه اوهلته مې واوروله، له منفي چلن سره مخ شوم.ما په هغې مقاله کې لیکلي وو:
«... دا خوزموږ او زموږ دژبې او فرهنګ پرضد د تربرونو د کارونو یو څو لنډکۍ بیلګې وې؛خو رابه شو خپل ځان ته.موږ خپله څه کوو؟ خپل سرباید په خپل ګریوانه کې ښکته کړواو ووایوچې: څومره مو د خپلې ژبې، ادب او فرهنګ له پاره مثبت کار کړی، او څومره مو د خپلې ژبې، ادب او فرهنګ له پاره مزاحمت او خنډونه پیښ کړی دي؟
په افغانستان کې د انقلاباتو او بدلونونو په لړکې ډیر افغانان بهرته روان شول چې په هغو کې پښتانه زلمیان هم وو؛خوتوپیر یې په دې کې وچې د نورو قومونو زلمیان اکثراً په زده کړه پسې ولاړل او د الفت صاحب خبره یې پرځای کړه چې ویلي یې وو: ((ځوانان باید په علم پسې ولاړشي او دعلم رڼا له ځان سره راوړي)) ؛خو

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

زموږځوانان په بله خوا روان شول.زموږ د اکثریت ځوانانو او د هغو د کورنیو ویاړپه دي کي وچي ځوانان يي دوبۍ ته په مزدورۍ پسي تللي دي.
شپون صاحب په((و نه و يو شپون و)) کي دي موضوع ته ډيره ښه او مستنده اشاره کړي ده.کوم پښتون جهادي رهبرچي د شپون صاحب زورورآشنا و، دخبرو په ترڅ کي شپون صاحب ورته ويلي وو:امکانات خولرئ، دا ځوانان بهرنيوهيوادونوته وليږئ چي علم زده کړي،کمپيوترزده کړي او ...
هغه په ځواب کي ورته ويلي وو:بهر ته يي وليږم اوپه لوی لاس يي د کفرلمني ته ور وغورځوم او ...
وګورئ ! که ښه حقيقت ته ځير شو،ب هرنيو هيوادونوته يي د کفر له ډاره نه ليږو،او د وچوغرولمن کي دقهريدلي شنه يا وريخ آسمان تر چتر لاندي، يا د پسونو،وزو اوخرو په لکی پسي ټول عمرتيرولوسره خو د نوي عصر نوي علوم زده کيدای نه شي، او کله چي مونوي علوم اوفنون زده نه وي ، نوله تمدن سره به بيګانه او له کاروان څخه به يي ډير وروسته پاتي اوسو، بيا نو نه پښتنو ته څه کولای شو اونه هم پښتو اونه هم پښتني فرهنګ ته ... دغه راز له بده مرغه زموږ د دوديزي ټولني وياړدعلم اوتمدن په ارابه پسي ځغا ستل نه دي، بلکي د دين په لمن پورې زوړنديدل دي، دا خبره د دې مانا نه لري چي په علم پسي تلل دی د دين د هيرولو په مانا وانګيرل شي.خپله ديندراي به هم کوواو دعلم زده کړه به هم نه هيروو...»(۵)
زما له مقالي نه وروسته د تفريح پرمهال دهمدي افغانانوله خوا غبرګون راسره وښودل شواو د ديني ضد افکارو په توريي تورن کړم.
له بده مرغه چي زموږدا باسواده لوستي قشر باندي هم دجګړي اوغلطو سياستونو کلتور مسلط دی دعلم اوپوهي شعر اوهنر ښووني روزني اوپرمختګ پرځای غلطو سياسي مسايلوسره ډيره مينه ښيي اوپه مقابل کي علم هنر پوهه او پرمختګ ته دومره پام نه کوي.
اوس نوکه دا ديوترخه واقعيت په ډول ومنو،رنوبايد دا هم ومنوچي دردي نيمګړتيا رفع کول وخت اوکارته اړتيا لري چي څنکه دردي خلکو او دردي ټولني په جګړي عادت ماغزه او درجګړي په دود لړي ماغزه بيرته په هنراوعاطفي باندي پريولل شي، هنري ذوق ورکړل شي،عاطفه اومينه وروښودل شي چي د جګړي اوتشدد لاره پريږدي، په ميني اومحبت سره علم زدکړي، د سواد او مطالعي لاره غوره کاندي او په کورکي د سلاح پرځای کتاب، قلم اوکمپيوتروساتي او د ښووني روزني اوتعليم په ترلاسه کولوسره د تمدن او نوي ژوند پرلاره روان شي.

مآخذونه:

1-http://larawbar.net/40516.html
2- http://www.taand.com/archives/26506
3-http://www.taand.com/archives/23711
4- http://www.youtube.com/watch?v=H3fW9H35BCQ
5-http://tolafghan.com/posts/19791

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ